
# د میږیانو په باره کې
# پوښتنې او ځوابونه





لیکوال: میلیسنت سل سام
ژباړن: سید عبدالله ولي زی
انځورګر: آر ایل ویت لي




دا د یوه مېږي انځور دی.
مېږی له درېو برخو جوړ شوی...
لومړی برخه یې سر دی، په سر کې د هغه ښکر او سترګو ته
وګورئ.
دویمه برخه یې سینه ده. د مېږي پښې له دې برخې سره نښتې دي.
د هغه پښې وشمېرئ ! هغه شپږ پښې لري !
د مېږي د بدن درېمه برخه خېټه ده.





مېږی يوه حشره ده. د ټولو حشرو بدن له درېو برخو جوړ شوی او ټول شپږ پښې لري.
د ېرې حشرې وزرونه لري؛ خو ځينې نور يې بيا نه لري.

آیا مېږیان یو له بل سره ورته دي؟
نه؛ شپږ زره ډوله مېږیان شته.









دا کتاب د کوم ډول مېږيانو په باره کې دی؟

دا کتاب د هغو معمولي مېږيانو په باره کې دی چې په کورونو کې پیدا کېږي.

دې مېږيانو واقعي اندازه دا ده: (   ) خو په دې کتاب کې هغه ډېر لوی وینو.




د مېږیانو په باره کې مطالعه څنګه کوئ؟
تر هر څه له مخه باید هغه پیدا کړی شي.
مېږیان هېڅکله هم یوازې ژوند نه کوي. هغه یوله بل سره ګډ ژوند کوي. هغه ځای چې مېږیان په کې اوسېږي مېږتون نومېږي.



مېږيان چېرته پيدا کوئ؟

زه مېږيان داسې پيدا کوم. کله چې د خپل کور په شاوخوا کې ګرځم. زما کور سيند ته نژدې دی. د سيند په غاړه ځو مېږيان د لرګيو د کوچنيو ټوټو له پاسه وينم. د لرګي يوه ټوټه اوچتوم د لاندې برخه يې له مېږيانو ډکه ده. هلته کوچني او سپين شيان هم وينم. مېږيان دغه کوچني او سپين شيان اوچتوي او له ځانه سره يې وړي.






په یوه لویه کاشوغه زه مېږیان، او سپین او کوچني شیان له لږ شګې سره په یوه پلاستیکي کڅوړه کې اچوم.
ښه دی چې وپوهېږئ مېږیان په هر ځای کې کتلی شئ. د لرګي د یوې ټوټې یا یوې ډبرې لاندې یا د پاڼو د هغه ډیري لاندې چې د مځکې له لندبل سره مرسته کوي.

مېږیان څه شی خوري؟
مېږیان هر هغه شی چې اوبلن وي، خوري. کله چې کلکه ډوډۍ خوري، نو ډوډۍ يې د خولې په يوه ځانګړې برخه کې پاتې کېږي. په دې برخه کې د کلکې ډوډۍ شيره اېستل کېږي. مېږیان دغه شيره خوري او تفاله يې له خولې څخه تو کوي.




بېلابېل مېږیان بېلا بېل خواړه خوري.


ځينې مېږیان د ګلونو او ډندرو شيره راټولوي.



او ځينې نور دانه خوري.



ځینې مېږیان هغه شیره ټولوي چې د ونو له بدن څخه راوځي.




ځینې مېږیان مړې حشرې خوري.


ځینې مېږیان نورې حشرې ښکار کوي او خوري.



ځینې مېږیان پاڼې خپل مېږتون ته وړي او کومو مرخېړیو (سمارق) یې چې پر مخ وده کړې ده، هغه خوري.

آیا په ټولنیز ژوند کې ټول مېږیان مجبور دي چې خپله پخپله ډوډۍ پیدا کړي؟
نه! د مېږتون لوی مېږیان خواړه پیدا کوي او مېږتون ته یې وړي او له نورو مېږیانو سره یې خوري.
څنګه یو مېږی نورو مېږیانو ته خواړه ورکوي؟
مېږیان دوه معدې لري، کله چې خواړه د هغوی خولې ته ورننوځي نو لومړۍ معدې ته یې ورځي.
لومړۍ معدې ته چینه دان یا انبار هم وایي. دا د هغه زنبیل غوندې دی چې ټول شوي خواړه په کې ساتي چې مېږتون ته یې یوسي. هغه مېږی چې په خپل انبار کې خواړه لري، کله چې له وړي مېږي سره مخامخ کېږي نو یو څه خواړه د خپلې خولې له لارې هغه ته ورکوي.









کله چې یو مېږی خپل خواړه له نورو مېږیانو سره ویشي نو خپل ځان ته یې هم یو څه پاتې کېږي؟

هو، د مېږي دویمه معده ده ته ځانګړې شوې ده. مېږی د لومړی معدې یو څه خواړه دویمې معدې ته لېږدوي.

یوه پوه د یوې آزموینې په وسیله وښوده چې له یوه مېږي څخه بل ته خواږه څومره په چټکۍ سره رسېږي. هغه لږ څه شات (عسل) ته آبي رنګ ورکړ او د شپږو مېږیانو په وړاندې یې کېښودل. د مېږیانو رنګ روښانه وؤ. یوه ورځ وروسته د مېږتون د ټولو مېږیانو رنګ آبي اوښتی و !









یو ځلې مې د شفتالو یوه ټوټه د څو مېږیان په وړاندې کېښوده.
مېږیانو هغه پیدا کړه. خو په بېړه خپل مېږتون ته ستانه شول.
ما د هغوی کار څاره، تر دې چې له شفتالو سره یو مېږی پاتې شو.
وروسته مې ولیدل چې څو نور مېږیان له مېږتون څخه راووتل.
هغوی له شفتالو څخه مېږتون او له مېږتون څخه شفتالو ته تلل او
راتلل. مېږي ورو ورو زیات شول.

په لسو دقیقو کې دیرش مېږیان په شفتالو ور ټول شوي وو.
شل دقیقې وروسته پنځوس مېږیان په شفتالو ورټول شول. په یوه ساعت کې لږ تر لږه سل مېږیان هلته راټول شول.
مېږیانو د شفتالو وړو او خوړو ته تر هغه ادامه ورکړه چې نژدې هیڅ هم پاتې نه شول.




کله چې یو یا څو مېږیان خواږه پیدا کوي، نور مېږیان ولې په منډو ترړو کېږي؟

کوم مېږی چې خواږه پیدا کوي، هیجاني کېږي. کله چې دغه مېږی د خوړو سره مېږتون ته ستنېږي نو پر لاره یوه ځانګړې کیمیایي کرښه جوړوي. دغه کیمیایي ماده د مېږي له وروستۍ



مېږیان د پلونو نښې څنګه پرېږدي؟
مېږی لنډه لاره وهي. بیا درېږي او ځان ته پر ځمکه زور ورکوي او یوه کیمیايي ماده غورځوي. بیا منډه اخلي او درېږي او ځان ته پر ځمکه زور ورکوي او کیمیايي ماده خوشې کوي. مېږی دغه کار څو څو وارې کوي، چې د تلو په لاره کې نښه پرېږدي.



نور مېږیان د پلونو نښې څنګه پېژني؟


هیجاني شوی مېږی په بېړه مېږتون ته ستنېږي. نور مېږیان د هغه د پلونو د کیمیاییي مادې بوی حس کوي. او له مېږتون څخه راوځي او د هغه منډه پسې اخلي چې خوړو ته ورسېږي. هغوی هم د بیرته راستنېدو په لاره کې د خپلو پلونو نښې پرېږدي. کله چې د پلونو دغه نښې زیاتېږي بوی یې توندېږي او ډېر مېږیان له مېږتون څخه راوځي او د خوړو شاوخوا را ټولېږي.






کله چې خواړه تمامېږي ولې د مېږیانو تګ راتګ هم ختمېږي؟
کومو مېږیانو ته چې خواړه نه رسېږي، مېږتون ته د بېرته ستنېدو په لاره کې د خوړو د نه رسېدو نښه پرېږدي. د خوړو د نه رسېدو بوی ډېر ژر له منځه ځي. او د مېږیانو تګ راتګ ختمېږي.


کله چې مېږیان په خپلو معدو کې له شتو خوړو سره مېږتون ته ستنېږي څه ورسره کېږي؟
هغوی هغو مېږیانو ته چې د خوړو په ټولو پسې بهر نه دي تللي، خواړه ورکوي.




مېږیان اولادونه هم لري؟


هو ! هر مېږی په لومړي سر کې د هګۍ غوندې وي. بیا شفیره کېږي، بیا زېږي وروسته ترې بشپړ مېږی جوړېږي. هغه کوچني او سپین شیان چې له مېږیانو سره مې له مځکې را پورته کړل، هغه د مېږیانو هګۍ وې.

د مېږیانو بچي له هګۍ څخه تر راوتو وروسته لومړی د چاغو او سپینو چینجیانو غوندې وي چې په وروستۍ برخه کې وړه خوله لري.





دغه چینجي ډوله نوي زیږېدلي مېږیان ورورو وده کوي او په شفیره بدلېږي. ځینې یې تر شفیره کېدو مخکې له ځانه ورېښمینه ځاله تاووي، خو ځینې نور بیا دا کار نه کوي او همداسې پاتې کېږي.


سره له دې چې مېږیان د شفیره ګۍ په حالت کې خوځېدلی نه شي خو وده کولی شي. کله چې شفیره له ځالې څخه وتلو ته چمتو شي د شاوخوا مېږیان ورسره مرسته کوي چې له ځالې بهر شي. کله چې له ځالې بهر شو نو بالغ مېږی ترې جوړېږي او کولی شي خپل ژوند پیل کړي.



هګۍ، نوي زېږېدلي مېږيان او شفيرې ساتل کېږي؟
ځينې مېږيان هګۍ، نوي زېږېدلي مېږيان او شفيرې زېږېښي.
دا کار د هغوی په وړاندې د مرخېړيو د ودې مخه نيسي. مېږيان د خپلو نويو زېږېدليو بچيو په خوله کې خواړه ورکوي او هغوی مړوي.



مېږيان هګۍ، نوي زېږېدلي بچي او شفېرې د مينې له کبله ساتي؟
مېږيان نوي زېږېدلي بچي او هکۍ ساتي ځکه د هغوی له پاسه يوه خوږه مايع ده چې مېږيان يې ډېره خوښوي.
کله چې مېږی نوي زېږېدلي بچي ته خواړه ورکوي، نو د هغوی هم ورسره برخه کېږي، او دا هماغه خوږه مايع ده چې د نوي زېږېدلې بچي له خولې راوځي.



کله چې د مېږي نوی زېږېدلی بچی په شفیره بدلېږي مېږيان يې ساتي.

هګی. په څومره وخت کې په بشپړ مېږي بدلېږي؟
معمولاً څو مياشتې وخت اخلي.




ځوان مېږی چې نوی بالغ شوی، څه شي ته ورته دی؟
هغه نورو مېږيانو ته ورته دی؛ يوازې رنګ يې لږ روښانه دی، لس ورځې وروسته د ده رنګ هم د نورو مېږيانو غوندې تياره کېږي.

ځوان مېږی خپل کار څنګه زده کوي؟
مېږی له هغه وخته چې نړۍ ته راځي کولی شي چې د نور مېږيانو کار وکړي، خو د هغوی غوندې ښه نه.
نو ورځ په ورځ یې کار ښه کېږي. له دې امله چې هم لوېږي او هم له نورو مېږيانو یو څه زده کوي.

نور مېږيان څه کوي او په مېږتون کې څه تېرېږي؟
ځينې مېږيان کور جوړوي.




ځينې مېږيان
مېږتون پاکوي.





ځینې مېږیان په خوړو پسې ځي.

ځینې مېږیان ځانونه پاکوي.




او ځینې نور یوازې او یوازې خوب کوي.







هر مېږی په مېږتون کې څه کار کوي؟
ځوان مېږیان معمولاً هګۍ، نوی زېږېدلي بچي او شفیرې ساتي.
کوي، د کور جوړول او د مېږتون پاکول هم د دوی کار دی. لوی مېږیان
د خوړو په برابرولو پسې له مېږتون څخه بهر وځي.



کاریګر


د یوه مېږتون مېږیان ټول سره ورته دي؟
نه ! زیاتره کارګران دي. کارګران یې هغه دي چې هګۍ ساتي؛ کور جوړوي؛ مېږتون پاکوي او په خوړو پسې ځي. کاریګر مېږیان ښځې دي خو هګۍ نه اچوي.
په ځینو مېږتونونو کې ځینې ښځینه مېږیان شته چې تر کارګرانو لوی دي او د سر تېریو په نامه هم یاد ېږي. د هغوی دنده د مېږتون دفاع ده.





دغه ملکه ده. ملکه تر نورو مېږیانو لویه وي او په کم وخت کې یې وزرونه کېږي. له دې امله چې ملکه یوازې هګۍ اچوي نو د مېږتون د مېږیانو مور ده. په ځینو لویو مېږتونونو کې دوې یا درې ملکې پیدا کېږي.

په مېږتون کې نور مېږیان هم شته. لکه نر مېږیان چې وزرونه هم لري خو تر ملکې کوچني دي.



**مېږيان بچي څنګه زېږوي؟**


د مېږيانو د زېږون موده د نوي مېږتون له جوړېدا سره پيل کېږي.
د اوړي يا مني د ګرمو ورځو په ماښام کې ملکې او نارينه مېږيان له مېږتون څخه را وځي. کارګران هم راوځي او هاخوا دې خوا منډې وهي.
ملکې په نابېره توګه الوزي. نارينه مېږيان هم ورپسې الوزي.
دغه پېښه په ټولو مېږتونونو کې نژدې په يوه وخت کې کېږي او آسمان له وزروالو مېږيانو (نر او ښځه) ډکېږي. په آسمان کې نارينه مېږيان د بچيو زېږولو لپاره له ملکو سره جوړه کېږي.







تر الوت وروسته په نارينه مېږيانو باندې څه کېږي؟
نرينه مېږيان مري.

له ملکو سره څه کېږي؟
ملکې پر ځمکه لوېږي او وزرونه يې ماتېږي.
هره ملکه له پخوانۍ ځالې لرې بل مېږتون پيدا کوي، يا ځمکه سورۍ کوي او يا تر تيږو لاندې ننوځي.






ملکه تر څو اونیو وروسته خپلې لومړنۍ هګۍ ږدي او تر څه وخت وروسته چې هګۍ په نوي بچي او شفیره بدلېږي، هغه ساتي.
نوي زېږېدلي بچي په بشپړ مېږي بدلېږي. دغه بالغ او ځوان مېږيان د ملکې هغه هګۍ چې وروسته یې اچوي ساتي او ورو ورو نوې ځاله جوړېږي.




د یوه مېږتون د جوړېدا کار څنګه کېږي؟

کاریګر مېږیان هر کار کولی شي؛ خو ځینې یې بیا په ډېره لېوالتیا کار کوي. دغه مېږیان د ډلو مشران کېږي او کارونه پیلوي. نور مېږیان هم له هغوی سره یو ځای کېږي.



یوه شپه مې یو مېږی ولید چې شل ځلې یې لاره غلطه کړه او بېرته راوګرځېد. هغه له یوه ځایه بل ته د شګو دانې لېږدولې. مېږي چې چېرته شګه پیدا کړې وه هلته بېرته نه ورتلو او هاخوا دې خوا یې وړله خو خپل مقصد ته نه رسېدو.




دا هم امکان لري چې مېږیان د یو بل خلاف کار وکړي. لکه: ممکنه ده چې د مېږیانو یوه ډله د شکو داني کورته یوسي؛ په داسې حال کې چې بله ډله هماغه دانې بېرته له کوره څخه راباسي، خو لږ وروسته بیا یوه ډله بلې باندې بریالۍ کېږي او دوې ډلې یو له بلې سره مرسته کوي.
که لږ څه مېږیان په یوه پلاستیکي کڅوړه کې له یوه مېږتون څخه بل ځای ته ولېږدوئ، وبه ګورئ چې په ډېرې بې قرارۍ یوې خوا او بلې خوا ته منډې وهي. بله ورځ به یې وګورئ چې د مېږتون په خاورو کې یې کورونه جوړ کړي دي.


مېږيان د هر کار لپاره پلان جوړوي؟

ځينې خلک وايي: «کله چې مېږيان غواړي د اوبو له ډنډ څخه واوړي نو پرېکړه کوي چې د اوبو له ډنډ له پاسه يو پل جوړ کړي.»


يوه پوه په دې باره کې آزموينه وکړه چې رښتيا او دروغ يې معلوم کړي. هغه په يوه لوښي کې اوبه واچولې او بيا يې د شګو غونډۍ په کې جوړه کړه. د غونډۍ له پاسه يې څو نوي زېږېدلي مېږيان کېښودل او لوښی يې يوه مېږتون ته نږدې کېښود. هلته ښکاره شو چې د مېږتون مېږيانو د نويو زېږېدليو مېږيانو د ژغورلو لپاره پل جوړ کړ او هغه يې وژغورل.

ښايي تاسو له ځانه سره ووايئ: « په زړه پورې ده ! مېږيانو خپل نوي زېږېدلي بچي وليدل او د هغوی د ژغورلو لپاره يې پل.»


۱


۲

١







خو صبر وکړئ! همدې پوه د اوبو  په یوه بل لوښي کې اوبه واچولې او د
شګو غونډۍ یې په کې جوړه کړه. دا ځل یې د شګو په غونډۍ کې د
مېږیانو نوي زېږېدلي بچي وانه چول؛ خو مېږیانو بیا په اوبو کې شګې
واچولې او غونډۍ ته د پورې وتو لپاره یې ځان ته پل جوړ کړ.


مېږیان معمولاً د اوبو په ډنډونو کې خاورې او شګې اچوي که په اوبو
کې دومره خاوره او شګه واچوي چې ورباندې د تېرېدو لاره جوړه کړي نو
بې له دې چې ورباندې وپوهېږي، پل یې جوړ کړی دی. هغه پوه چې د
مېږیانو په باره کې څېړنه او مطالعه کوي وایي: «کله چې د مېږیانو
مېږتون له اوبو ډک شي، مېږیان همدا کار کوي؛ یعنې د اوبو له پاسه
خاورې او شګې تویوي.»

٢




مېږيان چې کله هم ګورو، ښکرونه يې ټکانونه خوري؛ ولې؟
د مېږيانو ښکرونه په داسې اندامونو سمبال دي چې د مېږيانو د «لمسونې» او «بويونې» حسونه ځينې جوړېږي. دغه ښکرونه له مېږيانو سره مرسته کوي چې شيان د شکل او بوی له مخې وپېژني.
که د سر له پاسه مو لاسونه راووځي چې د پوزې غوندې بوی حس کړي نو تاسو به هم د مېږيانو غوندې ښکرونه ولرئ.



د بويولو حس
د لمسولو حس




مېږيان څنګه يو له بل سره اړيکې پيدا کوي؟
د دې کار لپاره څو لارې شته دي:
لمسول، پاکول او د هګيو، شفيرو او نويو زېږېدليو مېږيانو زبېښل.



خوله په خوله خواړه ورکول.




د يو بل پاکول.



په ښکرونو باندې يو بل لمسول.

د يو بل بويول.



د کيميايي مادې شاته پرېښودل.



کله چې په پسرلي یا وړي کې د لرګي کومه ټوټه پورته کوئ، او لاندې ځینې هغه مېږیان وینئ چې هګۍ او نوي زېږېدلي بچي ساتي، نو څه پېښېږي؟

مېږیان هڅې او نوي زېږېدلي بچي ژرترژره له هغه ځایه لرې کوي. ټول په یوه دقیقه کې له هغه ځایه تښتي.

مېږیان یو بل څنګه له خطر څخه خبروي؟ په دې باره کې نوې نظر یه دا ده چې کله مېږیان خطر احساس کړي نو ژر ترژره یوه کیمیایي ننبه پرېږدي چې ډېر توند بوی لري او مېږیان غورځو پرځو ته اړباسي.






ځینې خلک ګمان کوي چې مېږیان ټول وخت کار کوي. ستاسو په فکر دا خبره سمه ده؟

مېږیان تر نورو حشرو ډېر کاریګر نه دي. هر مېږی د ورځې څو ساعته ویده کېږي او دمه کوي. د مېږیانو د شپېنی خوب هم اوږد دی.


خو چې ویښ وي نو ډېر کار کوي.


مېږیان څنګه ویده کېږي؟

د خوب په وخت کې د مېږتون کورونه له مېږیانو ډکېږي. مېږیان خپل ښکرونه او پښې ورټولوي او ویده کېږي.




مېږيان له خوبه څنګه وېښېږي؟
هغوی زموږ غوندې له خوبه وېښېږي. ځانونه غزوي. وروسته ځانونه پاکوي.







مېږیان خپل ځانونه څنګه پاکوي؟
که د مېږي مخکېنیو پښو ته له نژدې نه او په دقت سره وګورئ نو کوچني ویښتان وربانديې ښکاري. مېږی په همديې ویښتانو ځانونه پاکوي. خپلې پښې جګوي او مسواک غونديې يې په خپلو ښکرونو موښي.
مېږی په خپله ژبه د بدن بېلابېلې برخې څټي او پاکوي. کله چې د هغوی ژبه د بدن کومې برخې ته نه رسېږي نو بیا له پښو کار اخلي.
مېږیان یو بل هم پاکوي.




مېږيان خپله لاره څنګه پيدا کوي؟
ځينې مېږيان هر څه ډېر ښه ويني او په آسانۍ سره خپله لاره پيدا کوي.





ځينې مېږيان چې څه شی سم نه شي ليدلی نو په بوی خپله لاره پيدا کوي.


ځينې نور بيا د لېدلو او بويولو په حس خپله لاره پيدا کوي.




مېږیان څه شی زده کولی شي؟
هو، مېږیان کولی شي چې څه شی زده کړي؛ تر دې چې که د مېږیانو لاره شپږ‌و اشتباهي لوریو ته غزېدلې وي کولی شي چې خوړو ته ورغلې سمه لاره انتخاب کړي.




مېږيان څه شی په یادولی شي؟
تجربو ښودلې ده چې مېږیان د مېږتون د تګ راتګ لاره له یاده نه باسي.
تر دې چې تر واورین ژمي وروسته هم، زاړه مېږیان پخوانۍ لارې په یادولی شي.




مېږيان کولی شي څه شی وپېژني؟


دغه انځور ته وګورئ. دا یوه ژوند پوه کښلی دی.


په دې انځور کې د مېږيانو خواړه په يوه لوړ ځای کې رسم شوي دي. لاندې ځينې د خاورو يو لوښی ليدل کېږي. د ځالې مېږيان پوره شپږ مياشتې خوړو ته د رسېدو لپاره پر دغه اوږده لاره تلل او راتلل. که په لوښي کې لږ نوره خاوره واچوو، خوړو ته د رسېدو لاره نوره هم نژدې کېږي، خو مېږيانو هيڅکله دا کار ونه کړ.



خواږه
مېږتون
د خاورو لوښی
د.د.ت.
د.د.ت.

څنګه کولی شو چې د مېږیانو مزل په دقیقه توګه تشریح کړو؟
پوهېږو چې مېږیان په لاره کې کیمیایي نښې پرېږدي. دغه نښې بېلابېل لوري په ګوته کوي او د بېلابېلو پېښو په باره کې خبر ورکوي. د مېږیانو یوه کیمیایي نښه د خوړو کرښه ده. یوه بله نښه یې د خطر باره کې خبر ورکول دي. نورې نښې هم لري چې تر اوسه ورباندې نه پوهېږو. یوه کیمیایي نښه کېدی شي چې ټول مېږیان، مېږتون ته دننه کړي. یوه بله کیمیایي نښه د دې سبب کېږي چې ټول مېږیان خوړو ته ورسېږي. یوه بله نښه دا ده چې ملکه مېږیانو ته خبر ورکوي چې هغه په مېږتون کې ده.
مېږیان په خپلو ښکرونو او پښو یو بل لمس کوي او په دې توګه یو له بل سره خبرې کوي. دا نښې د هغوی په ډله ییزو کارونو کې مهم نقش لري.

د مېږیانو په باره کې ډېر زیات شیان شته چې باید پیدا یې کړو. ښایي په نژدې راتلونکي کې د هغوی د ژوند په باره کې ډېر معلومات تر لاسه کړو.








مېږيانو ته مېږتون څنګه جوړ کړو؟

لومړی يو پلاستيکي روښانه صندوق چې پنځه په لسو سانتي متره $(10cm \times 5cm)$ اندازه ولري، جوړ کړئ. دغه صندوق بايد ډېر لوی او ژور نه وي؛ ځکه چې مېږيان په کې ورکېږي.

صندوق بايد کلکه دروازه ولري چې مېږيان ځينې بهر ته و نه شي وتلی.


د مېږتون جوړولو لپاره کولی شئ له دوو رڼو پلاستیکي سرپوښونو څخه چې یو د بل له پاسه ږدول کېږي، کار واخلئ. په یوه سر پوښ کې خاورې او مېږیان واچوئ او په دویم سر پوښ ورباندې له پاسه کېږدئ او شاوخوا یې په اسکاشتیپ سرېښ کړئ.



مېږيان هواته اړتيا لري. د دې لپاره چې هوا ور ورسېږي، د مېږتون په سر کې دوه سوري جوړ کړئ. د دې کار لپاره د يوه مشر په مرسته يوه رينه سره کړئ او له پلاسټيکي وره څخه يې تېره کړئ چې هغه سوری شي. په لوښي کې خاورې او مېږيان واچوئ. بيا په کتان ټوټه هغه سوري بند کړئ. د کتان ټوټه هوا پرېږدي چې دننه شي. خو د مېږيانو د تېښتې مخه هم نيسي.




مېږیان زیار باسي چې له دغه نوي مېږتون څخه وتښتي. کېدی شي بریالي هم شي. ځکه چې د کتان په ټوټو کوچني سوري وي چې په سترګو نه لیدل کېږي. که داسې وشول نو صندوق په بل لوښي کې چې له اوبو ډک وي، کېږدئ. مېږیان چې تر څو ډېر تنګ نه شي، اوبو ته به د ننه نه شي.



مېږيان اوبو ته اړتيا لري. کولی شئ چې هره ورځ څو څاڅکي اوبه د کوم سوري له لارې په قطره چکان مېږتون کې وا چوئ.


مېږيان خوړو ته اړتيا لري. له بل سوري څخه ورته خواړه ورواچوئ. د خوړو برابرولو لپاره يو څاڅکی شات له اوبو سره ګډ کړئ. شربت، د کلچو ميده ګي، ميوه، د د هګيو زيړ او ... د مېږيانو لپاره ښه خواړه دي. دغه خواړه په يوه ځل نه، بلکې لږلږ په مېږتون کې وا چوئ. مېږيان ډېرو خوړو ته اړتيا نه لري. هېره يې نه کړئ چې هغوی ډېر کوچني دي. يو څاڅکی شات د پنځوسو مېږيانو لپاره بس دی. هغوی ته په اونۍ کې يو ځل خواړه ورکړئ.



شربت
شات



د مېږيانو راټولول آسانه کار نه دی. کله چې د لرګي یا تیرې کومه ټوټه (چې مېږیان ورلاندې دي) پورته کړئ، مېږیان یو بل ته خبر ورکوي او په بیړه له هغه ځایه تښتي.
که پوره سرعت او دقت ولرئ، کولی شئ څو مېږیان په یوه کاشوغه پورته کړئ او په یوه پلاستیکي کڅوړه کې یې واچوئ. وروسته د کڅوړې خوله بنده کړئ چې مېږیان ځینې ونه تښتي. کڅوړه (البته، د مشرانو په اجازه) د یخچال غوندې کوم ساړه ځای کې وساتئ. ساړه مېږیان بې حاله کوي او تاسو کولی شئ چې کڅوړه ډېرې آسانۍ سره یې په نوي جوړ شوي مېږتون کې تشه کړئ.

کله چې نه غواړئ مېږيانو ته وګورئ نو د مېږتون مخ يې پټ کړئ. په دې کار سره مېږيان احساسوي چې تر ځمکې لاندې دي که مېږتون ته مدام د نور وړانګې ورننوځي نو هغوی په خاورو کې پټېږي.
که غواړئ چې د مېږيانو ګرځېدا په ښه توګه وګورئ نو له ذره بين څخه کار واخلئ.





د مني ګل د نهمې دوديزې مشاعرې په وياړ

د خپرونو لړ: (۱۰)